# لار ښود

# محمد علي جناح

لانـدې ورکـړې شـوې دوه حـوالې د سټېنلي والپـرټ د کتـاب جنـاح آف پاکسـتان نـه اخسـتې شـوې دي. دا کتاب د دیارلس څوارلس کالو طالب علم هم لوستے شي.

سټېنلي والپـرټ وايـي چـې جنـاح د پاکسـتان دپـاره وۀ لکـه چـې د انـډيا دپـاره نهـرو او ګانـدي پـه هېـڅ وو. لکـه هغـه د ګانـدي پـه شـان يـو مهربانـه پـلار وۀ او د نهـرو پـه شـان د ملـک وړومـبے سـرخېل هم وۀ.

والپـرټ وايـي چـې، پـه دنيـا کښـې ډيـر کـم داسـې خلـق دي چـا چـې د تـاريخ لاره بدلـه کـړې وي. او داسـې ډېـر لـږ خلق وي څـوک چـې د دنيـا نقشـه بدلـه کـړي. او د ټولو نـه کـم هغـه خلـق دي چـا چـې د يو قام دپاره ملک جوړ کړے وي. محمد علي جناح دا درېواړه کارونه وکړه.

قائد اعظـم محمـد علـي جنـاح پـه ۲۵ دسـمبر کـال۱۸۷۶ء کښـې پـه کراچـۍ ښـار کښـې پېـدا شـۀ. تـر ۱۶کـالو عمـر پـورې پـه کراچـۍ کښـې وسـېدۀ. د دغـې نـه پـس برطـانيې تـه پـه يـو تجـارتي فـرم کښـې د کـار کولـو پـه نيـت روان شـۀ. د پـلار ئـې دا خيـال وۀ چـې واپـس راشـي نـو دلتـه بـه د خپـل کـار د سنبالولو جوګه وي .

خـو وشـوه داسـې چـې د لنـدن تجـارتي کمپنـۍ هغـۀ تـه د درېـو مياشـتو د کـار کولـو موقـع ورکولـه خـو د جنـاح صـېب د تجـارت سـره بيخـي څـۀ زړۀ نـۀ لګېـدۀ. او هغـۀ د تجـارت پـه ځـائے وکالـت تـه تـن کېښـوۀ. د هغـۀ د پـلار بـه دا خبـره خوښـه شـوې نـۀ وي خـو زوے ئـې بيـا هـم د وکالـت د سـبق وئيلو نه منع نۀ کړۀ.

محمـد علـي جنـاح د خپـل مقصـد تـر لاسـه کولـو يعنـې وکيـل جوړېـدو دپـاره د زړۀ پـه اخـلاص محنـت وکـړو. هغـۀ د برطـانيې پـه مشـهور لنکنـز ان کښـې داخلـه واخېسـته،کومه چـې د ولايـت پـه څلـور نـوم وړو پوهنتونونـو کښـې يـوه ده. ددې کاميـاب شـاګردان د بېرسـټر پـه نامـه بللے شـي. (وکالـت پـاس کـوونکي ټـول د وکيـل پـه نامـه بللے کيـږي خـو بېرسـټر تـه د عـام وکيـل نـه زيـات اهميت حاصل دے)

د دې سبق سره سره د محمد علي د سیاست سره هم مینه پیدا شوه. او دا خبره کول به غلطه نهٔ وي چې د هغهٔ به چې د کوم سبق سره مینه پیدا شوه نو بیا به ئې ښهٔ په نره سر ته رسوهٔ. ځکه هغهٔ د سیاست او سیاستوالو د ژوند ژواک ښهٔ ژوره لوستنه وکړه .

دادا بهائي نوروجي چې د هندوستان پارسے وهٔ. چې کله دادا بهائی نورو جي د ولایت پارلېماني انتخاباتو ته ودرېدهٔ نو جناح سره د نورو هندوستاني طالب عالمانو د هغهٔ د ګټلو دپاره ډېر کار وکړهٔ چې په اخره کښې نوروجي وګټله او د برطانیې د ایوانِ عام ممبر وټاکلے شهٔ. دهٔ تش د درې وټونو په بري ګټلې وه. نو ملګرو به ورته په درې ووټونو ګټلے وئیل .

د بېرېسټرۍ نه پس محمد علي جناح واپس کراچۍ ته ستون شهٔ. او دا فېصله ئې کړې وه چې بمبۍ ته به ځي او وکالت به وړاندې بوځي .

په کراچۍ کښې د جناح صېب قیام ډېر غمژن وګرځېدهٔ. ځکه چې د لندن په ځلور کاله مسافرۍ کښې دلته د دوي مور او کور ودانې په حق رسېدلې وې. (د مور بي بي د خواهش په قدر کښې د لندن د تلو نه وړاندې د شپاړسو کالو په عمر کښې ئې ورله واده کړے وهٔ هسې نهٔچې د بل تهذیب زنانهٔ د کور مېرمنه نهٔ شي) .

بمبۍ ته د تلو نه پس ئې وکالت شروع کړهٔ چې ډېر کامیاب شهٔ. د بمبۍ سپین روبې کورنۍ د دهٔ د هوښیارتیا او درنې ښتي نه ډېر په رعب کښې وې. او دے به ئې خپل کور ته رابللهٔ.

په یو څو کالو کښې د جناح صېب نامهٔ په ښهٔ وکیلانو کښې شمار شوهٔ .

په کال ۱۹۰۶ کښې ئې ځان په کانګرېس پارټۍ پورې وتړهٔ. دغه وخت د دوي دا خیال وهٔ چې هندوان او مسلمانان په یوځاے ښهٔ ژوند تېرولے شي.

۱۹۰۶ کښې په ډهاکه کښې د مسلم لیګ بنیاد کېښودے شهٔ. سلطان محمود شاه آغا خان د دې صدر وټاکلے شهٔ. جناح ته په مسلم لیګ کښې د شامليدو بلنه ورکړې شوه خو جناح صېب په دې وجه د ګډون نه انکاري شهٔ چې مسلم لیګ په هندوستان کښې په حکومت کښې د مسلمانانو د ګډون خبره خو وکړه خو ورسره ئې د برطانیې د حکومت سره د وفادارۍ وعده هم وکړه. هغو دا و نهٔ وئیل چې انګرېز دې په هندوستان دحکومت کولو نه لاس په سر شي.

خو څو کاله پس ۱۹۱۳ کښې چې کله مسلم لیګ په خپل سوچ کښې بدلون راوستهٔ او وئیل ئې چې په هندوستان باندې به د خپلو خلقو راج وي، د برطانیې نهٔ. نو جناح صېب د لار ښود په

توګـه شـامليده قبـول کـړه. پـه دغـه وخـت کښـي جنـاح صـيب د کـانګرس او د مسـلم ليـګ دواړو ممبـر وۀ. (د کـانګرس نـه ئـي پـه کـال ۱۹۲۰ کښـي اسـتعفا ورکـړه. پـه مسلم ليـګ کښـي د شـامليدو نـه پـس جنـاح صـيب تـه احسـاس وشـۀ چـي پـه هندوسـتان کښـي د مسـلمانانو شـمېر کـم دے ( د مسـلمانانو ابـادي د هنـدوانو نـه دري برخـې کمـه وه). هغـو تـه د هندوسـتان پـه حکومـت کښـي د انصاف ميلاوېدو امکان لږ وۀ.

پـه دغـه لړکښـي دا وئـيلے کېـدے شـي چـي د جنـاح صـېب سـوچ هـم هغـه اړخ اختيـاروونکے وۀ کـوم چـي ددۀ نـه وړانـدې د سرسيد سـوچ وۀ چـې هنـدو او مسـلمان د انګرېـز د تلـو نـه پـس د يـو بـل سـره پـه ښـۀ ډول وسـېدے شـي او ډېـر ښـۀ حکومـت کـولے شـي. خـو تجربـې د دوي دغـه سـوچ بـدل کړۀ. مسلمانانو او په هندوانو کښې د ابادئ نه علاوه د تعليم فرق هم وۀ .

د يـو اقليـت د اکثريـت پـه شـان د مضـبوط کېدو دپـاره ضـروري ده چـي پـه تعلـيم، پـه خاصـه توګـه ساينسـي او د دې سـره سـره پـه ټېکنـالوجي کښـي پـه هـيڅ ډول شـا تـه نـۀ وي. او د دې نـه عـلاوه ګټـه وټـه ئـې هـم دومـره وي چـې د اکثريـت مقابلـه پـرې کېـدے شـي. (هـم دا وجـه وه چـې د برطـانيې د يو موټي انګرېزانو لاس تر ډېرې مودې د هندوستان په څو چنده زياته ابادئ باندې بر وۀ)

د نولسمې صـدئ پـه شـروع کښـې انګرېـز هندوسـتاني بچـو لـه سـکولونه جـوړ کـړه چـي بـه ورتـه پکښـي د انګرېـزئ ژبـې اؤ ادب نـه عـلاوه حسـاب او د سـائنس تعلـيم ورکـړے کېـدۀ . او د دې سـره سـره ئـې د انګرېـز تهـذيب او ثقافـت هـم ځـۀ لـږ ډېـر زده کـوۀ. انګرېزانـو د سـکولونو نـه عـلاوه څـو کالجونـه او پوهنتونونـه هـم پرانسـتل . او چـې د دې نـه بـه کـوم چـا تعلـيم پـوره کـړۀ هغـه تـه بـه د حکومـت پـه هلـو ځلـو کښـي برخـه ورکـړې شـوه( عمومـا د کلـرک عهـده) د دې فائـده دا وشـوه چـې انګرېـز تـه دلتـه د کـار سـړي پـه لاس وراغلـه او د خپـل وطـن نـه پـه ډېـره ډېـره تنخـواه د عملـې را بللو ضرورت پيښ نۀ شۀ.

هنـدوانو ددغـه ادارو نـه ګټـه پورتـه کـړه او نـوي علمونـه ئـې زده کـړل خـو ډېـرو لـږو مسـلمانانو دغه لاره خپله کړه.

زیات تر مسلمانان بچي اول مکتب او بیا مدرسي ته لیږلي شول، چرته چې به دوي ته قرآن په یادو یادولے شۀ. حدیث او فقه، فلسفه، فارسي او اردو ژبې ښودلې شوې، او خطاطي زده کولې شوه.

سرسید احمدخان ته احساس شوے وۀ چې د نوو علمونو کمے به د مسلمانانو سباوون تیارۀ کړي.ځکه هغوي داسې سکولونه خلاص کړل چرته چرته چې سائنس، حساب او انګرېزي ښودلې شوه. خو دوي ناوخته کړے وۀ. ځکه چې ګڼ هندوان په نوو علمونو کښې د مسلمانانو نه وړاندې تلي وو.وروستو سر سید احمد خان مشهوره علي ګړه یونیورسټي هم جوړه کړه.

د شلمې پېړۍ په سر کښې چې د مسلمانانو په پرمختګ کښې کوم خنډونه وو هغۀ دا وو.

.1د هندوانو ابادي د مسلمانانو د ابادۍ نه درې چنده زیاته وه.

.2ددغه زمانې په نوو علمونو کښې مسلمانان د هندوانو نه شاته وو.

.3په مسلمانانو او هندوانو کښې مذهبي تعصباتو وده کوله. ددې په زیاتولو کښې د ولایتي حکومت هم غټ لاس وۀ. د کومې نه چې دا ظاهرېده چې ددې دواړو مذهبونو منونکي دلته یو ځاے نۀ شي وسېدلے. جناح صېب ته دا حقیقت ښکاره ښکارېده.

سید احمد خان وړومبے هندوستانے وۀ چا چې دا خبره ښکاره کړې وه چې مسلمان او هندو بیل بیل قامونه دي. ځکه چې د دوي مذهب، تهذیب، ثقافت، رسمونه رواجونه او تاریخونه دیو بل نه بیل دي. دې سوچ ته دوه قومي نظریه ووئیلې شوه. په شلمه پېړۍ کښې په دغه بنیاد د پاکستان د ریاست جوړولو پاڅون روان شۀ.

جناح صېب دهندوستان د مسلمانانو د پاره د بیل وطن جوړولو لپاره نۀ ستړي کېدونکې هلې ځلې وکړې.او اخر په ۱۴ اګست پاکستان په وجود کښې راغے. په ۷ اګست جناح صېب د خپلې خور فاطمه جناح سره د کراچۍ د ماړي پور په هوائي اډه د جهاز نه کوز شۀ. یوه ډله په هوائي ډګر د دوي په طمع ولاړه وه. هغو په خوشحالۍ د پاکستان زنده باد او قائد اعظم زنده باد نعرې وهلې.

چا تـه دا پتـه نـۀ وه چـې د دوي  قائـد اعظـم د مـودو نـه ناروغـه وۀ. تـش د دوي خـور او ډاکتـر تـه دغه راز معلوم وۀ.

د پاکسـتان جوړېـدو سـره پـه لکونـو کـډوال د هندوسـتان نـه پاکسـتان تـه راتلـل شـروع شـول. دغـه رنـګ ګـڼ هنـدوان د پاکسـتان نـه هندوسـتان تـه مـات وو.د بـده مرغـه د دواړو مـذهبونو د خلقـو تـر مېنځـه تـاوتريخوالي سـر ووهـو او خبـره يـو بـل وژلـو تـه ورسـېده. قائـد اعظـم د کـډوالو د ښـېګړې دپاره دټـول وطـن دوره وکـړه. دا د يـو داسـې سـړي دپـاره ځـوک چـې د کـالونو راسـې د نـري رنـځ TBرنځور وۀ او د چا ژوند چې يو څو مياشتې پاتې وۀ، د زغم او برداشت انتها وه .

قائد خپله ناروغتيا پټه ولې ساتله؟

کـه چېـرې هغـوي داسـې نـۀ کـول نـو د هندوسـتان د تقسيم تـاريخ بـه غـزولے شـوے وۀ. او د دوي د مـرګ نـه پـس پـه هنـد کښـې بـل داسـې مسلمان نـۀ وۀ چـې د دوي پـه رنـګ د قـوت ارادي او پـوهې مالــک وے. چــې د کــانګريس او انګرېزانــو د غېــر رضــامندو لاســو نــه ئــې پاکســتان راشــوکولے وے.

غالب ګمان دے چې د رنځ پټ ساتلو وجه هم دا وه.

په 11 ستمبر لکه چې ټولو پاکستانيانو ته پته

ده، قائد اعظم وفات شۀ.

نتيجــه: د جنــاح صــېب د ژونــد او شخصــيت دوه غټــې خوبيــانې وې. کومــو چــې د دوي مشــري مثالي کړې وه. دا وو د دوي د محنت کولو عادت او د دوي کوټلې اراده.

کـه چـرې مـونږ ددې ژورو تـه ځـو نـو وئيلے شـي چـې دوي کـوم کـار کـول غوښـتل يـا بـه ئـې کـوم کار ته لاس اچول. په هغۀ کار کښې بۀ همېشه بريالے کېدۀ. دا څنګه؟

1. د هغوي جامه پېزار به همېشه ډېر نفيس وو او د هند په خوش لباسو خلقو کښې شمېر وو .

2. هغوي يو عظيم وکيل جوړېدل غوښتل او ښۀ سمه ګټه وټه ئې کول غوښتل

3.هغوي په سياست کښې دلچسپي لرله او د سياست د مضمون ژوره مطالعه ئې کړې وه.او په قول د يو نامتو انګرېز تاريخدان ارنلډ ټوئن بي چې جناح په ټوله نړۍ کښې د پېړۍ د ټولو ستر سياستوال وۀ.

4.دوي پرېکړه کړې وه چې دوي به د هندوستان مسلمانانو له بيل هېواد ګټي او دغسې ئې وکړل.

قائد اعظم دا تاريخي الفاظ . پاکستان جوړېدو نه پس په خپل وړومبي تقرير کښې وئيلي وو.

"تاسو ازاد يئ، ازاد يئ تاسو په دې ملک پاکستان کښې ، خپلو خپلو عبادت خانو، جوماتونو يا مندرونو ته تللو ته. ستاسو مذهب څۀ دے، ذات څۀ دے ؟، قوم څۀ دے؟ ددې د حکومت د معاملو سره هيڅ تعلق نۀ شته"

هغوي دا هم وئيل چې "د يو ملک سباوون زبردست نۀ شي کېدے تر څو چې د دوي زنانه د نارينۀ سره اوږۀ په اوږۀ کار ونۀ کړي"

**آمنه اظفر**

**ژباړن: ډاکټر اباسين يوسفزے**